


فريد احمد « تسکين » ـ پکتيا


د نشر نيټه : ۱۳ اپريل ۲۰۱۳ ميلادی


# ځوان نسل د هيواد په پرمختګ کې

**د طالبانو د حکومت له نسکوريدو وروسته مدني فعاليتونو زور واخيست دبيان ازادۍ وده وکړه دځوانو نسل په اذهانو کې سياسي شعور وغوړيد د هيواد په هر ګوټ کې مدني بنسټونه پرانيستل شول . هرچا د خپلې ژبې او کلتور د ودې او پراختيا لپاره نه ستړې کيدونکې هلې ځلې وکړې او اوس هم دا لړۍ دوام لري.**
**بيلا بېل ځوانان دې ډګر ته را ووتل افغان مهاجرين چې د هيواد نه بهر يې خپل مدني او فرهنګي فعاليتونه کول د خپلو فعاليتونو د دوام لړۍ يې تر خپل هيواد او سيمو پورې ورسوله بېلا بېلې خپرندويه ټولنې رامنځ ته شوې په ټولنيزو،فرهنګي او سياسي موضوعاتو بلا بلا کتابونه وليکل شول، مجلې،اخبارونه ويب پاڼې او همدا ډول د اونيزو غونډو ترڅنګ مشاعرو هم زور واخيست چې اوس د الله ج شکر دی زموږ په ټولنيز ژوند کې يې په پراخه پيمانه مثبت بدلون راوستی دی.**

**د طاير ځلاند نوم مې اوريدلی و د هغه د لومړۍ ټولګې (خوشبو نه وينه د رنګونو ښاخي) زما د يوه ملګري سره وه خو د وخت په تيريدو د ده له کشر ورور سايرځلاند سره هم بلد شوم د دوی افکار مې وتلل د دوی هغه مينه چې د خپلو ملګرو سره يې لري او د دوی هغه احساس چې خپلې ژبې او فرهنګ سره يې لري پر ما کوډې وکړې ، د وی سره مې راشه درشه پيل شوه په هماغه وخت کې ښايي زما د شعر ذوق بې خونده و د شعر په ښکلا نه پوهيدم همدغه د دوی مينې او ښکلي**

ذوق برکت و چې زما شعر د بې ذوقی او خمود له کشمکشونو را ووت نوی ځوان نسل چې د هیواد په پرمختګ کې خورا ارزښتمند رول لوبوي باید چې ورته په کارونو کې لومړیتوب ورکړل شي او مشران خلک د دوی هڅې وستايي او خپلې نیکې مشورې ورسره شریکې کړي. دا مې د دې په خاطر وویل زموږ هغه مشران چې نن سبا د ادب په ډګر کارکوي اویا یې کړی دی او یاهم په خپلو کارونو کې ښه ځلیدلي دي خپلې تجربې نویو ځوانانو سره شریکې کړي ترڅو دوی هم په راتلونکي کې ښه وځلیږي او د یوښه نوم خاوندان شي چې هم نړیوال او هم موږ ورباندې و ویاړو په دې سره به زموږ ادب لکه څنګه چې د نورو ژبو ادبیات مخ په ودې دي یو سیال ملګری شي.

دوه اونی وړاندې د افغانستان د هنر د کلتور د ودې ټولنې پرانیستغونډه او مشاعره وه چې ګڼ شمیر شاعران ،لیکوالان او دنظر خاوندان له بیلا بیلو ولایتونو راغلي وو او خپله هغه ادبي مینه یې څرګنده کړه کوم چې موږ خپلې خوږې ژبې او خپل اصلي فرهنګ سره یې ښیو.
په دې غونډه کې بیلا بیلو فرهنګي څیرو د ادب د بډ تنکیو ځوانانوبرخه اخیستې وه چې دې غونډې ته د میرمن کلتوري ـ ټولنیزبهیر نجونې هم د خپلې ژبې سره د مینې له مخې راغلې وې.

دې غونډې ته ځیني کسان نه وو راغلي خدای ج شته ډیر خواشینی شوم په زړه کې مې یو ډول درد څریکه وکړه ومې ویل کاش دې غونډې ته زموږ مشران هم راغلي وای چې دې نویو ځوانانو سره یې خپلې تجربې شریکې کړې وای.
چې دوی هم خپلې ژبې ته یو قوت وربښلی وای . شهرت چې دی فطري نه دی بلکې کسبي دی که ته ښه کار او لاسته راوړنه ولرې د شهرت مزی دې نورهم غځیږي .
د رحمان بابا شاعرانه وینا ده چې :

ځان ژوندی پرځمکه خښ کړه لکه تخم
که لویي غواړې د خاورو په مقام شه

که چیرته موږ له عاجزی کار واخلو نو ارو مرو لوړ مقام ته رسیږو که غرور وکړو خدای ج مو ډیر ژر له خپل مقام غورځوي ځکه غرور یوازې له خدای ج سره ښایي هغه په هرڅه قادر دی که غرور کوي همداسې یې ټول کاینات لاس په سلام ولاړ دي .موږ انسانان هم لاس په نامه ورته ولاړ یو د ده عبادت کوو،دهرې ستونزې حل له خدای ج څخه غواړو مرګ هم دی راکوی اوژوند هم دی راکوي.
زه وایم چې راځئ نور له خودخواهی او ځان غوښتنې تیرشئ دا هیواد به ترڅو همداسې د دربدری په اورکې سوځي.

خیر که دنویو ځوانانو هنر کمزوری دی ستونزه ورسره وګالی کوښښونه ورسره وکړئ چې دوی هم ستاسو په شان وځلیږي او خپلې ژبې ته یوڅه ورکړي ،تاسوهم همداسې ځوانان وئ هغه د ادب ستوري او ځلیدلې خیرې چې یا نن په دې نړی کې نشته اویاهم ژوندي دي دوی هم همداسې ستونزې تاسوسره ګاللې دي ،چې اوس د ښه نوم اوښه مقام خاوندان یاستئ.

له نویوځوانانو هم هیله اوغوښتنه کوم چې د مشرانو احترام او درناوی وکړي هڅې وکړي چې نوښت وکړي کله چې د ناهیلی له پړاو تیر شي له هغه وروسته دې هڅونې ته تمه مه کوي ځکه هنر یې بې خوندي او کمزوري راوړي ښه ده چې نیوکه ومني ترڅو هنر یې پیاوړی شي او بله خپله مفکوره دې په نورو مه عملي کوي څه چې معیار او ارونه وي باید په هم هغې لارې قدم واخلو.

په پای کې له ګرانو ملګرو طایرځلاند ،سایرځلاند ، ارشاد رغاند میراحمد یاد،سعید شینواري او نوروملګرو مننه کوم چې زه یې کابل ته بللی وم. او ما ته یې پوره درناوی وکړ. رب ج دې ټولو ته توفیق ورکړي اوهرقدم یې د نیکۍ په تله کې حساب کړي چاچې په دې غونډه کې ګډون کړی و خپلې خبرې په خپل یو بیت پای ته رسوم .

د یارانو د الفت ډال مې په لاس دی
زه به هیڅ د کرکه خېل ځواک خوراک نشم

د پښتو ادب د لا ودې په هیله

فرید احمد تسکین / پکتیا
taskeen32@gmail.com

بازګشت به صفحه اصلی - www.said-afghani.org